مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د ص سعیدی

۲۰۲۶/۰۴/۱۰

# پو توافق شوي معیاري قاموس ته اړتیا

ایتومولوجي ( ایتومولوژي) د ژبپوهنې له۱۲ علوموڅخه یو علم دی. ایتومولوجي د یو لغت تذکره او تأریخ بیانوي او دا تشابه او ورته والی د لیکنې او تلفظ په مختلفو ژبو کې نباید سره مغالطه شي.
د پښتو ژبې صاحب، صیب چې د احترام لپاره کارول کېږي، بعضې وختو کې سره مغالطه، خو عامیانه هماغه: هو صیب دی. دلته د عربی ژبې صاحب سره مغالطه نه ده پکار.
صاحب عربي ژبه کې ملګري، انډیوال، رفیق او هملاري ته وایي.
صحابي لغوي او بیا اصطلاحي او دیني معناوې سره ورته والی لري او هم له همدې اصله ده!
صیب ( د ی په تشدید) عربي او قرآني ژبه کې باران او ددغه پښتو ( صیب ) سره هیڅ تړاو نه لري.
صایب چې له عربي صائب نه اخستل شوی، پښتو او دري کې کله صایب او کله د عربي رسم الخط تر تاثیر لاندې په عربي بڼه لیکل کېږي، دواړه بنې خطا نه دي. دا ( صیب اوصایب ) دوه جدا کلمې دي او ( صایب ) د صیب او صاحب سره له سره تړاو نه لري.
لاندې مثال او متن ځیر شئ: که مفتي د فتوا شرایط لري او یوه فتوا ورکړي، که فتوا یې صایبه ( صائبه ) وه نو دا دوه ثوابه لري. د اجتهاد او فتوی ثواب او در صائب نظر او فتوی ثواب! که د صواب نظر خاوند او د صائب یعنې وارد او درست نظر خاوند چې په هدف لرېدلي نظر ته وایي ریښتیا او درست ، صایب مقصد او نظر تقدیم کړ، نو الله تعالی به ورته ( ان شاء الله تعالی) ستر اجرونه ورکړي!
نو صائب نظر، درست او رسېدلي نظر ته وایي!
دلته د ثواب او د صواب کلمو ته لکه څنګه چې پاس مثال راوستل شو، دقت پکار دی! هو چې د حق کار کول ثواب او اجر لري او د صواب نظر لرونکی د وارد او درست نظر لرونکي ته ویل کېږي! صادق او د شرایطو لرونکو مفتیانو فتاوا ته په همدې نظر کتل په کار دي! هو دا کلمې نن سبا د لیکنې په وخت بعضې یې د عربي ژبې تر تأثیر لاندې (ئې)لیکي او بعضې پښتو کې (یې)لیکي. زه دا دوېیم حالت ته ارجحیت ورکوم!
ژبه، لیکنه او املاء کې نن روش او دود دادی چې هغه لیکه چې ویل کېږي. دا نظرنن سبا ستر مشکلات پاروي او معنا په پښتو کې مانا لیکي او له دې سره زه مخالف یم. څارنوال په سارنوال لیکي او دا غلط فهمی ایجادوي. څارنوال د څار څخه او د پښتو څار نه اخیستل شوای او درسته لیکنه ده او سارنوال کې د ( سار ) استفاده کېږي چې بې معنا او لیکنه د لیکنې لپاره کارول کېږي او دا خطاء کړنه ده. خو په یقین سره عربي مقدس نصوص باید هماغسې ولیکل شي ، چې قرآني بڼه لري. دلته د داوؤد، داؤد، داوود، داود لیکنه ده، چې قرآن کریم کې داود هم راغلای دی.
اوس معموله بڼه را ته داؤد، ښکاري او معنا باید معنا ولیکل شي او څارنوال باید څارنوال.
اوس چې دغه بحث کې یو، لندن کې یو عربي الاصل نوم ترافلګر سکویر لوستل او لیکل کېږي. اکثره یې خلک په اصل د تلفظ خبر نه دي. دا نوم اصل کې (طرف الغار ) او له هسپانې نه د هغه مشهور انګلیسي جنرال کارنامې یاد ځلی دی چې هلته د عربي ژبې ، څخه راځي او دا ستره غیر متوازنه جګړه ، د غار په غاړه، واقع شوې وه!
ایتومو لوجي د ژبپوهنې له علومو یو جالب علم دی او کله کله مونږ د ژبو د کلماتو د محدودې پوهې له وجهې، ګمراه او خطاء نتایجو او پایلو ته رسوي. زه دلته د تیمې کار اړتیا چې د مختلفو ژبو پوهان سره ککړې شریکې کړي، سفارش کوم او دا کار د علومو د اکاډمۍ او ژبپوهنو مراکز کار دی او بیا بنې پایلې لرلای شي! مننه
ډاکټر صلاح الدین سعیدي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ